# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۳۵ ګڼه / چهارشنبه ۱۵ شوال‌المکرم ۱٤٤۵ هـ.ق / ۰۵ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش / ۲٤ اپريل ۲۰۲٤ ميلادي





## بي بي سي باید د افغاني ټولنې حساسيتونه را ونه پاروي

د اطلاعاتو او کلتـور وزارت د هنر او فرهنګ معينيـت مقام کې د ياد معينيـت مرسـتيال مولـوي عتيق اللـه عزيـزي، د نشـراتو معينيت چارسـمبالي مولـوي ضياالحـق حقمـل او د رسـنيو پـه نشـراتو د نظـارت او څـار رئيـس ډاکټر عبدالواحد ريان د جنوبي اسيا لپاره د بي بي سي مشرې جکي مارتينس سره کتلي دي.

د هنـر او کلتور معين مولوي عتيق الله عزيزي وويل: اسلامي امارت د اسـلامي ارزښـتونو پـه پام کې نيولو سره افغانسـتان کې د رسنيو، خبريالانو او بيان ازادۍ ملاتړکوي. د ښـاغلي عزيزي په خبـره، ټولې رسـنۍ بايد د افغانانو ديني او ملي ارزښتونو ته درناوي ولري او حقايق منعکـس کړي. مولـوي عتيق الله عزيزي وړانـدې وويل چې بي بي سي د خپرنيزو ... ۳مخ



**اقتصادي معاونيت:**

# د نړيوال بانک پر واقعيتونو ولاړې برخې ستايو

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د افغانسـتان اقتصـادي وضعيت په اړه د نړيـوال بانک د وروسـتي راپور په غبرګـون کې ويلي، چـې دوی د دغه بانک هغه برخې سـتايي چې پر واقعيتونو ولاړې وي.

ياد بانک په خپـل راپور کې د بهرنيو اسـعارو پر وړاندې د افغانيو ارزښت لوړېدنه، د نشه يي توکو د کرکېلې ۹۰ سلنه کمېدو او په ۲۰۲۳ کال کې له ټاکلي هدف څخه د ۹ سـلنه زياتو عوايدو په راټولو او نور پر مختګونو هم اعتراف کړی دی.

بل پلو، د رياسـت الـوزرا اقتصادي ليکلي چې د اسـلامي امـارت له راتګ وروسته د کورني ناخالص توليد کچه زياته شوې. اقتصادي معاونيت زياتوي، چې پـه کور دننه د خوراکي او غيرخوارکـي توکـو د بيو د ټيټوالي اساسي لامل په کور دننه د دې توکو په توليد کې زياتوالی دی. ۳مخ

## تأکيد وزير خارجه بر همکاری‌های بيشتر افغانستان و چين



مولوی اميرخان متقی، سرپرسـت وزارت امـور خارجـه می‌گويـد، پيشـرفت‌های اخيـر در منطقـه ايجاب می‌کند تا افغانسـتان و چين هماهنگی‌ها و همکاری‌های‌شان را ادامه دهند.

عبدالقهار بلخی، سخنگوی وزارت امور خارجه با نشر خبرنامه‌ای گفته که آقای متقی اين سـخنان را ديروز در ديدار با ژاو شينګ، سفير چين در کابل، بيان کرده است.

بربنياد خبرنامه، سرپرسـت وزارت امور خارجه با سفير چين مقيم کابل در اين ديدار در مورد روابط دو جانبه در بخش‌های سياسـی، اقتصادی و فرهنگی، گفت‌وگو کرده است.

مولـوی اميرخان متقـی، صادرات انـار و جلغوزه افغانسـتان به چين، سـرمايه‌گذاری بيجينـگ روی معـادن مس عينـک، دهليز واخان و ديگر بخش‌هـا را مثال‌های زنده، پاليسـی‌های امارت اسلامی، بيان کرده است.

در هميـن حـال، ژاو شـينگ، سفيرچين مقيم کابل پيشرفت‌ها در بخش‌های مختلف در ... ص۳

## سرمقاله

# د خپلواکۍ ساتنه هم سخته قرباني او شديده مبارزه غواړي!

دا حقيقـت اوس ګردو نړيوالو ته د لمر په شـان څرګنـد دی چې افغانان په هيـڅ صورت او هيـڅ پلمه تر پردي اشـغال او اسـارت لاندې ژوند کول نه شـي زغملـی او په خورا ډېـره درنه بيه هم اسـتقلال او خپلواکي ترلاسـه کول غواړي. خو پوښـتنه دا ده چې اوس په دغسـې له شيطانت او دسيسـو ډکـه زمانـه کې بـه څرنګـه وکړی شـي پـردۍ داخلي او اسـتخباراتي پلانونه شـنډ او خپل هغه اسـتقلال وسـاتلی شي کوم چې د ميليونو سـرونو په قربانۍ او انتهايي سـختو کړاوونو زغملويې ترلاسـه کـړی دی. اوسـنۍ زمانـه پرته له شـکه د تخنيک، پېچلي سياسـت او دجالي دسيسو زمانه ده. په داسې حال کې چې افغان ولس بيا عموماً په ياد ډګر کې تر هر چا زيات وروسـته پاتې دي. اوس نو که موږ په رښتيا سره يو داسـې خپلواک او مستقل نظام غواړو چې هيڅ بهرني څواکمن سره نه وي تړلی، خپله عقيده، رسـم و کلتور او ګرد سره مادي او معنوي ارزښتونه مو خونـدي او هيڅ بهرني فرمايش ته «بلې صيب» ونـه وايو، نو دا خورا لوړ ارمان، عالي هدف او سـترنګ او مېړانه ده خو دا به هم ورسـره منو چې پرداسې دريځ ټينګ پاتيدل په واقعيت کې له ګردې نړۍ سره مقابله او دوام ورکول يې سـخته قرباني او شـديده مبارزه هم غواړي. په دې لار کې مزې چړچې نشته، استراحت او دمه نه مني او په غفلت او سادګي سره خو ډېر ژر هر څه له لاسه وځي. مطلب د يوې دغسې خپلواکۍ ساتنه پوره هوښياري، څيرکي، بصيرت، تحمل او پرله پسې هر اړخيز کار غواړي. البته د يوې دغه شـان مبارزې مطلب دا هم نه دی چې اوس به نوموږ په رښـتيا سره ګردې نړۍ ته په غبړ ورځو او ښکاره دښـمني به ورسره کوو، بلکې مقصد دا دی چې په حکمت، مدارا او بصيرت سـره له هغوی نه ګټه او خير ترلاسه او له زياترو شرونو يې ځان وژغورلی شو. لکه چې همدا اوس د نړۍ پرمخ ډېرې داسـې هېوادونه پر همدغه تګلاره چلېږي. هغوی پرځان بسيا، خپلې دفاع ته چمتو او له پردي احتياجه بالکل خلاص دي خو بيا هم نړيوال کلي سره مناسـبه راشه درشه او سم روابط ښه پاللی شي. معنا دا چې له نورو سره په اړيکو کې د متقابل درناوي اوګټې مقام يې ترلاسه کړی دی د يادونې وړ ده چې پورتني ارمان ترلاسـه کولو کې د ملت يووالی. همغږي او د يو مثالي نظام شـتون بيا تر هر څه ډېر مهم دي او پوخ باور دی چې په دغه وسيله يو ملت او هېواد خپل اسـتقلال په ډېرې اسانۍ خوندي کولی او لږه موده کې ځان بسـيا کولی شي. هو، دلته بايد دې ته هم پام وشي چې د خپل رعيت ملګرتيا ترلاسه کول او په وګړو کې وحدت او همغږي راوستل بيا هغه مهال شـوني دي چې وخت پر وخت هغوی سره مشوره وشي او مهمو فيصلو او تصاميمو کې يې باور ترلاسـه کړی شـي. کنه په مطلق استبداد، شخصي پرېکړو او خپل سـرو اقداماتو سـره به ډېر ژر د ملت ترمنځ او نظام سره په چلند کې داسـې خطرناکي چاودنې رامنځ ته شـي چې بيا به يې هيڅ کوم حکيم او سياسـتوال مهار نه کړی شـي. لنډه دا چې د خپلواکۍ ساتنې او اسـلامي نظام د بقا لپاره پورتنۍ لارې چارې هغه اساسي شرطونه دي چې په نه شـتون کې به يې هيڅکله خپل ارمان او هدف ته و نه رسـېدلی شو. بناءً د افغان مظلوم او ځورېدلي ولس اوسـنيو واکمنو ته لازمه ده چې يادو سـتونزو ته کاملاً متوجه او د خپلواکۍ ساتنې او ملت ژغورنې په لارکې له بشـپړ دقت او بصيرته کار واخلي. همدا د ټولو افغانانو سـتره هيله او لوی ارمان دی.




## لوړو زده کړو علمي مرستيال په عربي اماراتو کې د افغانستان له سفير سره وکتل

د لوړو زده کړو وزارت علمي معين په خپل کاري دفتر کې په متحده عربي اماراتو کې د افغانستان له سفير سره وکتل. د لوړو زده کړو وزارت علمي معين دوکتور لطف الله خيرخواه په متحده عربي اماراتو کې د افغانستان له سـفير مولـوي بدرالدين حقاني سـره، د متحده عربي اماراتو هېواد له لوري دشـيخ زايد پوهنتون د زړو ودانيو د ترميم پـر روانو چارو او له ياد هېواد سره د دوه اړخيزو اکاډميکو همکاريـو د فرصتونو پـر برابرولو خبرې وکړې. د لوړو زده کړو وزارت علمي معين له شـيخ زايد پوهنتون سره د متحده عربي اماراتو له مرستو او علمي همکاريو څخه ... ۳مخ

**اقتصاد وزرات:**

## د اقتصادي وضعيت د خرابوالي په اړه د نړيوال بانک راپور له حقايقو لرې او ناسم دی




**شريعت:** د اقتصاد وزارت مسؤلينو ويلي دي، چې نړيوال بانک په خپل يوه نوي راپور کې د تېرکال اقتصادي حالـت ارزوني کړي چـې په ځينو برخو کې يې د افغانستان داقتصادي شاتګ خبره کړې ده.

د نومـوړې وزارت پـه وينا چې ياد راپور له حقايقو لرې او ناسم دی او زموږ د هېواد سـترو اقتصادي لاسته راوړنو ته يې پام نه دی کړی. ۳مخ

**له اروپا راغلی افغان پلاوی:**

## لوېديځ د اسلامي امارت په تړاو پروپاګند کوي

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزير مولـوي محمديعقوب مجاهد له اروپا څخه راغلي افغان پلاوي سره په خپل دفتر کې وکتل. ياد افغـان پلاوي پـه خپلو خبرو کې وويـل چې لوېديـځ د افغان حکومت پـه هکله لـه پروپاګند کار اخلي. پلاوي د هېواد په کچه د بېخبنايـي پروژو پلـې کول، بې سارې امنيت، برياله حکومتولي او نورو برخو کې د افغان حکومت چوپړونه وسـتايل. افغان پلاوي د ښـې حکومتولۍ برخه کې د خپل اندونه او نظرونه له ملي دفاع وزير سره شريک کړل. ۳مخ


د اسلامي امت زړه سوانده، مدبر او با وقاره امير رحمه الله ۲

د علماء کرامو ملګرتيا به نجات درکړي ۲

يو بل مفهوم، د تاريخ لوست ۲

افغان اعلانات ۳


## تېره اوونۍ د اوسپنې پټلۍ په وسيله د ۷۰ زرو ټن توکو انتقالات شوي



د اوسـپنې پټلۍ اداري په خپره کړې خبر پاڼه کې ويلي، چې، ۵۶ زره ټنه توکي يې د حيرتان بندر، ۸ زره ټنه يې له اقينې، ۷ زره ټنه يې له تور غونډۍ او دغه راز له ۱۲ سـوه ټنه ډير يې له خواف ـ هـرات بندر له لارې انتقال کړي دي. د اوسـپنې پټلـۍ اداري مسوولين وايي، چې... ۳مخ

## د ګمرکي چارو د د پياوړتيا په موخه غونډه وشوه



د هېـواد د ګمرکې چارو د لا ښـه والي پـه موخه مشـورتي ناسـته وشـوه. د ګمرکونـو لـوی رئيـس مفتي عبدالمتين سـعيد په مشرۍ د ګمرکونو له مسـؤلينو سره په نوي مالي کال کـې د ګمرکې چارو د لا ښـه والي په موخه مشورتي ناسته د ګمرکونو او عوايدو معينيت... ۳مخ

## د اتاترک روغتون ظرفيتونه لوړېږي

د عامې روغتيـا وزارت د روغتيايي خدمتونـو وړاندې کولو مرسـتيال، ښـاغلي مولوي عبدالولـي حقاني په خپل کاري دفتر کې د انګلسـتان هېواد د ( کېډز اور)خيريه بنسټ له مسؤلينو سره ناسته ترسره کړه




په دې ناسته کې د ياد بنسټ له لوري د اتاتـرک روغتـون عمليات خونې د بيارغونـې، يـاد روغتـون د طبي تجهيزاتو د ورکړې، د افغان روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو، دوامدره همـکارۍ او ګڼو نـورو روغتيايي موضوعاتـو اړوند بحـث او خبرې ترسره شوې. ۳مخ

## حدود ۴۰ تانکر تيل بی کيفيت به ايران مسترد شد



اداره ملـی نورم و سـتندرد ۳۹ عراده تانکر، حامل تيل بی‌کيفيت را به کشور ايران مسترد کرده است.

اين اداره با نشـر خبرنامه‌ای از مسترد شدن اين مقدار تيل‌های بی‌کيفيت به کشور ايران، خبر داده است.

بربنياد خبرنامه، تانکرهای حامل تيل بی‌کيفيت از بندر شيخ ابو نصر فراهی، به ايران برگشت داده شده‌اند. ص۳

# ثالث عمر..!

**حمزه الیاس**

هغه رهبر چې په نوم اورېدو سره یې زړه ته سکون او روح ته خوشحالي بخښي، هغه اتل چې د تاریخ پر ستکي یې د اسلام هسکه شمله رپاند کړه.

هغه رهبر چې دیوه میلمه په خاطر یې خپله ټوله پاچاهي له خاورو سره خاوري کړه له خپله کوره جدایي دخپلو اولادو فراق یې وزغامه خو داسي څه یې افغانانو ته پرېښبودل چې افغانان دې د تاریخ په زرینو کرښو کې په تورو کرښو کې ولیکل شیهغه زعیم چې د نړۍ یوې لویه امپراطوري +۵۷ هیوادونو سره په یواځي سر دمقابلې ډغره ووهله د نړۍ ټول غرور او طاقت یې له خاوري سره خاوري کړ.

هغه اتل چې د نړۍ ټول مسلمانان یې د تاریخ په پاڼو کې د یو اتل او شجاع او قوي او سپېڅلي رهبر په نوم لیکي. هغه سپه سالار چې نړۍ یې حتا دشمن یې هم په مړانه ، غیرت، شجاعت او سپېڅلتوب اعتراف کوي. هغه اتل چې په خپل غیرت منده غېږه کې داسي اتلان وروزل چې هر یو یې دشمن ته دآسمان تندر څخه یو تندر و.

همدې رهبر، زعیم او قوي سپه سالار ته یو څو کرښي:

ای کاش ثالث عمره! نن ته ژوندی وای او تا په خپلو سترګو د نړۍ زبر ځواک مات او ذلیل لیدلای وای.

ای کاش ثالث عمره! نن ته ژوندی وای او دا هر څه خوشحالي تا په خپلو سترګو لیدلې وای.

ای کاش ثالث عمره! نن ته ژوندی وای هغه تاچې پېشېنګویي کړې وه چې امریکا به د لست د سر څخه به دلست پای ته راځي نن هغه مغروره امریکا د لست د سر څخه د لست پای ته راغله او دلست د پای نه هم وغورزېده.

ای ثالث عمره! ته رېښتینی افغان او مسلمان وې ، ته د مسلمانو د مات او رنګو زړونو ټکور وې.

ای ثالث عمره! تا د یو داسي امارت بنیاد کېښود چې د نړۍ د کفارو په مخ کې خنډ او د سترګو خار او ازغی و.

تا د یو داسې امارت بنیاد کېښود چې د نړۍ د هر مغروره وحشي، ظالم او کافر څخه یې خپل افغاني او اسلامي عنعنات وژغورل.

ای ثالث عمره! تا د یو داسي امارت بنیاد کېښود چې د هغوی په بریا او کامیابي سره د نړۍ د مسلمانانو په زړو کې د حریت او د اشغال څخه د خلاصون ولوله او جذبه را پیدا سوه.

ای ثالث عمره! دا د خپلي غېږې نه داسي مېړني وروزل چې د اسلام د د فاع په خاطر یې خپل په نازک او تنکي وجود پوري بمونه وتړل او د اعلاء کلمة الله لپاره یې خپلي نازکي او تنکۍ ځوانۍ په اور لولپه کړې او د خپل تن په قربانیو یې د هیواد څخه د شر او فساد تغر ټول کړ او د ملیونونو افغانانو او مسلمانانو هغه خوب ریښتیا کړ چې له ډېره وخته یې انتظار کاوه.

ای ثالث عمره! ته لاړې خو لار دې پالل کېږې. زمونږ مرحوم رهبره! تا خو خپله فریضه په ډېره ښه توګه انجام کړه د امارت وحدت دې تأمین کړ د کفري یرغل پر وړاندې جهاد دې د فتحو تر درشله ورساوه. کله چې دې دمخلصو مجاهدینو، مستضعفو مؤمنانو او سرسپارلیو طالبانو دا کور په هر لحاظ په نظم او مدیریت سمبال کړ او د فتحو په مسیر برابر کړ. نو بیا د خپل متعال رب دیدار په طرف رانه لاړې.

نحسبه کذلک والله حسیبه.!

# د اسلامي امت زړه سوانده، مدبر او با وقاره امیر رحمه الله

**لیکنه: مجاهد خواجه**

له نن څخه پوره یوولس کاله وړاندې اسلامي امت د یو داسې چا له درانه سیورې محروم شو، چې د عجز، تقوا، حقانیت، او شجاعت غږ یې سلامتې نړۍ احساساوه، هغه دروند رهبر رحمه الله چې د اسلامي امت د تېر برم اعادې ته په تش لاس او قوي ارادې را پاڅید، ناهیلی نه شو، پرمخ لاړ، ځان ، کورنۍ او بسته هیواد یې مشقتونو او تکلیفونو ته ور کړ، خو د اسلامي احکامو نه مازې ګوږ هم نه شو .

له واخانه تر ارغنده، له ننګرهاره تر هراته یې پاشلی ملت په یو تغر را ټول ، د قومي او ژبني تعصب ریښې یې له بیخه ویستې او د ملت یووالي او د اسلامي نظام انفاذ ته یې مخلصانه کار وکړ.

هو!

لوی ملا صاحب رحمه الله یوازې افغانستان ته نه ، بلکې سلامتې نړۍ ته داسې څه تر شا پرېښودل، چې اسلامپالو ته د استقامت، صبر، تحمل، شجاعت او تقوا درس ورکوي، او کفري نړۍ ته د دوی د ماتې، ذلالت او ناکامۍ داستان غږوي.

مجاهدینو ته یې د جهاد د اوږدې مبارزې په سخته لار کې د هر رنګ تکلیفونو او مشقتونو د صبر او استقامت درس ور تلقین کړ.

ثالث عمر رحمه الله د اسلامي امت د تاریخ سازو رجالو له کاروانه تاریخ سازه هستۍ، تاریخ جوړونکی اتل او په معاصرې دوره کې بې جوړې رهبر و.

د دهٔ رحمه الله هر خبره او وینا بې څه نه وه، تر شا یې د اوږدې مبارزې وروسته د بریا راز پروت و، هغهٔ رحمه الله د امریکایي اشغال پر اوایلو کې ویلي و{ الله جل جلاله مونږ ته د بري وعده را کړې ده او امریکا د ماتې ، ګورو به چې کومه وعده به رښتونې وي.} له مؤمنو رجالو سره دالله جل جلاله وعده رښتونې ده، کټ مټ د ده د وینا مطابق امریکا ماته او شر منده شوه.

د ثالث عمر رحمه الله د کارنامو داستان د یوې ورځې د لیکلو نه ، بلکې ورځې، میاشتې او کلونه غواړي.د داسې رجالو ستاینه د دوی د کارنامو په اړه راتلونکي نسل ته تر شا څه پرېښودل ، د ټولو همفکره لیکوالو مسئولیت ده. رحمه الله

# د علماء کرامو ملګرتیا به نجات درکړي

**عاکف مهاجر**

یو عالم د (یا ایها الذین امنو اتقو الله و کونو مع الصادقین) تر وضاحت لاندې ویلي چې یو وخت یو ساحر او جادوګر اتش پرست ؤ، چې هیچا یې د مقابلې لپاره زړه نه ښه کولو، خو بالآخره یې د وخت ولی الله مالک بن دینار مقابلې ته تیار شو.

کله چې مالک بن دینار راغی، خلک راټول ول چې اوس د اسلام او کفر مقابله ده، معلومه به شي چې څوک په حق دي. مسلمانان هم حیران او کفار هم حیران ولاړ دي، مالک بن دینار امر وکړ چې لرګي راټول کړی دا د اور خدایي منونکی اتش پرست به هم لاس کې ننباسي زه هم، همداسې وشول، دواړو لاسونه سره ورکړل او اور ته یې دننه کړل، خو د یوه لاس هم نه سوځي، مالک بن دینار حیران دی چې یا ربه زما خو ستا په وحدانیت ایمان دی، د ده لاس ولې نه سوځي، خو مقابله پای ته ورسیده، هیڅ څوک هم بریالي نه شول.

مالک بن دینار ورته وایي سبا به بیا راځو، د شپې ټوله شپه مالک بن دینار رب ته درېږي او ژړا کوي چې یا ربه ما خو ستا په وحدانیت باور کړی وو چې لاس مې نه سوځیده د هغه لاس ولې نه سوځیده، د شپې وروستی شپه کې خوب پرې راځي او الله جل جلاله بلا کیف په خوب کې ویني، ورته وایي اې مالکه د هغه لاس ستا له لاس سره یو ځای شو، نو ځکه نه سوځیدلو، سبا ورځ مالک بن دینار راځي اتش پرست ته د مقابلې لپاره، بیا اور تیارېږي، خو مالک بن دینار نن ورته شرط لګوي چې زه به اور ته خپل لاس جلا ننباسم او ته جلا، اتش پرست یې نه مني او مسلمانان مقابله ګټي، خو د وخت بادشاه له مالک بن دینار پوښتي چې دا شرط یې ولې ورته کېښود هغه ورته د خپل خوب کیسه بیانوي.

له دې معلومه شوه چې د صالحانو په ملګرتیا کې نجات ده، کله چې د صادقینو ملګری شوې له اور څخه به په امن شې، د صادقینو تفسیر په علماء شوی، نود علماء په ملګرتیا کې نجات ده.

# یو بل مفهوم، د تاریخ لوست

**محمد علي عظمت**

ناشوني ده چې ته دې په قضیې باندې ښه سم پوه شې، ناشوني ده چې ته یې په ښه ډول سره په خوځښت راولې او دا هم ناشوني ده چې مسلمانان دې د تاریخ له لوستلو او ساتلو پرته یو ځواکمن تمدن ولري، هغه څوک چې غواړي د دې قضیې په حل کې ریښتوني برخه ولري باید د ګران فلسطین دننه د اسرائیلو د جوړېدو تاریخ ولولي، دا ډېره ارینه خبره ده، طبعاً ناشوني ده چې زه دې دلته ټول تاریخ په بېړه درته ووایم، خو ژر ژر به یو څو ټکیو ته اشاره وکړم:

۱- اسلامي تاریخ موږ ته په بل ډول راښودل شوی دی، د اتلانو څېرې په کې بدې انځور شوې او د خاینانو څېرې یې په کې سترې کړې دي، دغه کار د تعلیمي او رسنیزو لارو په وسیله تر سره شوی دی چې مسلمانان باید ورته پام وکړي. فلسطین هغه وخت ونیول شو کله چې د غره په څېر عثماني سلطان دوهم عبدالحمید له واکه لرې شو او هغه عثماني خلافت لغو شو چې د فلسطین ملاتړ یې کاوه، له دې سره سره رسنۍ او تعلیمي نصاب دا را ښیي چې عثماني خلافت د عربو پر ځمکو د ترکانو اشغال و.

۲- یوه بله اړینه خبره دا چې تاریخ نن ورځ دا راته وایي چې فلسطینیانو خپلې ځمکې په یهودو خپله وپلورلې، په دې ډول ګناه د دوی ګناه ده او هسې په فلسطین باندې خپل ذهن مه مصروفوئ!

**راځئ چې لږ ژر تاریخ وکورو:**

ـ د ۱۹۴۸ کال د جنګ په پیل کې یهودو په فلسطین کې یوازې ۵/۷ سلنه ځمکه لرله.

ـ ۲ سلنه یې له هغه سیکولر حکومت څخه په رشوت واخیستله چې د اتحاد او ترقي ګوند د مشر مصطفی کمال اتاترک او د هغه د ملګرو په وسیله یې د عثماني خلافت ځای نیولی و.

ـ ۱/۲ سلنه یې د بریتانوي راج څخه بې له کوم قیمته د ډالۍ په توګه ترلاسه کړه.

ـ ۱/۵ سلنه یې د سوریې او لبنان د نصراني کورنیو لکه سرسق، مطران او تیان څخه وپلورله چې په فلسطین کې اوسېدل.

ـ پاتې شوه یو فیصد ځمکه؛ دا ځمکه خپله فلسطینیانو پلورلې ده چې خاینان ول، د دوی په خیانت د فلسطین فقهاؤ هم فتوی ورکړې لکه مفتي امین حسیني، دغه کار له ۱۹۲۲م څخه پیل شوی و.

اوس وایو چې د فلسطین یوازې۱٪ ځمکه خرڅه شوې ده!!

او پاتې ځمکه د ۱۹۴۸ کال په جنګ کې د ټانکونو، پوځي وسایطو او د عربو په پېژندل شوې ، خیانت نیول شوې ده.

که خبره داسې وي نو ولې یې دا خرافاتي دروغ نشرول، طبعاً صهیونستان په دې خوښ دي او ګټه ترې اخلي ځکه دا یې په ځمکه کې د حق د اثبات دلیل جوړېږي.

خو لویه ستونزه دا ده چې عرب هم په دې دروغو خوښ ول، خپرول یې او اوس یې هم ځیني خپروي!! سبحان الله ولې؟

دا خبره ښکاره ده، لامل یې د ضمیر چوپېدل، د نفس ارام او د زړه ډاډه کول دي، خلک غواړي چې په خپلو ورځنیو چارو ډېر بوخت شي او غواړي چې د فلسطین قضیه هېره کړي نو اسانه ده چې ووایي: ځمکې یې خرڅې کړې نو موږ به یې هم پرته د ضمیر له درده هېر کړو.

**۳- په تاریخ کې یوه عمومي یادونه:**

په فلسطین کې د یهودو ښې یوازې هغه وخت ټینګې شوې کله چې عربي مشرانو خیانت وکړ، بلکې عربي ولسونه خپله ورک ول، خاین مشران د ولسونو لپاره یوه طبیعي کلا وه، دا د الله (ج) قانون نه دی چې د نیکو خلکو مشر دې فاسد وي او یا د فاسدو خلکو مشر نیک سړی وي. حدیث، ترجمه: «څنګه چې یاستئ هماغسې به درباندې ګمارل کیږي.» دلته د ولسونو د روزلو رول څرګندیږي، کله چې ولسونه په پوره او بشپړ اسلامي فهم وروزل شي نو مشر به یې هم نیک وي، لکه د شیخ عزالدین قسام عصر چې ده او ډلې یې د ولس په روزلو تېر کړ چې لوی انقلاب او لوی سړي یې رامنځته کړل لکه عبدالقادر حسیني «رح».

اما هغه ولس چې په عیش، عاجزي، نرمېدلو او فحشاء روزل شوی وي مخ یې د الله (ج) لارې ته نه اوړي، موږ ولیدل چې اتاترک څنګه دین بدل کړ، خطرناک تحریف یې په کې وکړ خو له دې سره سره یې هم ولس نیوکه پرې ونه کړه؛ لامل یې یا ناپوهي وه، یا سستي، یا وېره او یا هم طمع، پایله یې هم وحشتناک سقوط و.

۴- لیدل کیږي چې د بریتانیې، فرانسې، یهودیانو او نورو، په استعماري منګولو کې د اسلامي امت د لوېدلو اصلي لامل له ټولو مخکې د مسلمانانو اختلافات دي، یعنې له ټولو مخکې وطنپالنه وه، دا عرب دی( عربي وطنپالنه) دا ترکی دی( ترکي وطنپالنه) دا کردی دی( کردي وطنپالنه) دا بربری دی( بربري وطنپالنه) او... همداسې نو د وطنپالنې مبلغینو ته وایم چې پام کوئ!

په دغه چټک سفر کې په لومړۍ دندې وغړېدو چې ډېره مهمه ده؛ د قضیې د تحریک موضوع چې باید په ټولو شونیو امکاناتو باید په چټکۍ سره په سمو مفاهیمو راوپارول شي.

دلته مې ځیني مفاهیم ، چې بېل کړي مو و درته یاد کړل او ژر ژر پرې تېر شوو؛ مفاهیم دا وو:

۱- وهېړو چې فلسطین بشپړ اسلامي هېواد دی او د همدې لپاره یې ازادوو، د هغه چا ځواب مو هم ورکړ چې قضیه وېشي، یا د قدس او اقصی په نوم جنګ کوي، همدارنګه مو د هغه چا ځواب هم ورکړ چې د عربي فلسطین شعار یې پورته کړی دی.

۲- د انتفاضې د دوام مفهوم چې د ازادۍ یوازینی لاره ده.

۳- د لوی اسرائیل مفهوم او حقیقت یې.

۴- د اسلامي تاریخ د لوستلو د اهمیت مفهوم په عمومي ډول، د فلسطین اوسنی تاریخ په ځانګړي ډول او ځینو نورو ټکیو ته اشاره.

د باور وړ خبره ده چې نور ډېر مفاهیم هم دي او باید په ډېر تفصیل او پاملرنې سره ولوستل شي چې دلته یې د لوستلو لپاره ځای پراخه نه و؛ له الله (ج) غواړم چې په کوم بل ځای کې یې، د تشریح کولو فرصت پیدا کړم.

دویمه دنده

**د هیلې راژوندۍ کول**

دویمه دنده د ماتې د احساس وژل او د هغې ناکامۍ علاج دی چې د مسلمانانو ذهنونو ته ننوتې ده او یا یې د معنویت روحیه ورکمه کړې ده، همدارنګه د بیا راپورته کېدو هیله راژوندۍ کول هم له لویو دندو څخه ده، دا یوازې د فلسطین په قضیه کې نه بلکې په ټول اسلامي امت کې.

سړی حیران شي، داسې یو امت چې د اسلامي شریعت په څېر قانون لري، اسلامي تاریخ لري، او د اسلام لپاره سړي لري احساسات یې ماتېږي!! خو دا یو لیدل شوی حقیقت او داسې واقعیت دی چې انکار ترې نه شي کېدای.

**ولې مسلمانان مایوسه شول؟!**

ډېرې چارې وې چې یو له بل سره یې تعامل وکړ او د مسلمانانو په نفوسو کې یې مایوسي پرېښوده.

هغه واقعیت چې مسلمانان ورسره په شلمه پېړۍ کې له لږو بریاوو او ډېرو ماتو سره مخ شول، پیل یې د عثماني خلافت په سقوط بیا د ۱۹۴۸م کال ماته، بیا د ۱۹۵۶ کال ماته( سره له دې چې د بریا په ډول انځور شوه) بیا د ۱۹۶۷م کال ماته، د ۱۹۷۳م کال نابشپړ بری او د لبنان د ۱۹۸۲م کال جنګ.

هغه واقعیت چې موږ له ډېرو بدرنګه ټولوژنو سره په فلسطین، کوسوو، بوسنیا، کشمیر، چیچنیا، عراق او صومالیا کې مخ یو.

هغه واقعیت چې له ظلم، فساد، فحشاء، اقتصادي رکود، د میلیاردونو غلا، څو پوړه کورونو، بېوزلي، اختلافونو، یو د بل وژنو او کرکې سره په کې مخ یو.

دغه تریخ واقعیت سره له اړول شوي تاریخه داسې شو، چې موږ ته یې یو اوښتی مخ راووېست او ډېر یې له لیدلو شرمېږي یا مخ ترې اړوي.

د واقعیت بدلول، د اسلام د انځور کمزوري کول، ټول جرمونه په اسلامپالو ورتپل او د تمدن او پرمختګ ټول اسباب له دوی څخه مستثنی ګڼل. همداسې د لویدیځ ډېر عزتمن بلل او پرسول یې تر څو د ځوانانو د خوبونو وروستی حد وګرځي، خپل هېوادونه او خلک شاته ورته پرېږدي او د جنت په لور روان شي(امریکا او اروپا څنګه چې دوی وایي)

دغو کارونو او یو څه نورو کارونو یو له بل سره تعامل وکړ ، چې په پایله کې یې د مسلمانانو په نفوسو کې مایوسي لاره وېستله.

هغو کسانو ته چې مایوسه شوي دي او هغو کسانو ته چې غواړي د مایوسه شویو په زړونو کې هیله راپورته کړي دغه کلمې وایم:

**لس حقیقتونه وپېژنئ:**

۱ـ په ځمکه کې د خدای یو قانون دی چې نه بدلېږي، څنګه چې اسلامي امت نن ورځ رنځېږي، داسې وختونه هم و چې نور په کې رنځېدل او اسلامي امت په امن او عافیت کې و. داسې ورځې به بېرته راشي( ناشوني نه ده) چې واک به د مسلمانانو وي، دا یو محکم قانون دی.

**۲ـ دغه امت:** اسلامي امت یو بېل طبیعت لري، چې له نورو امتونو یې بېلوي، طبیعت دا دی چې دا یو نه مړ کېدونکی امت دی، ښایي یو وخت به نورو ته غاړه کېږدي، ښایي یو وخت به کمزوري شي خو هیڅکله هم نه مړ کېږي، دا امت د پارس، روم، فرعونیانو، انګرېزانو او حتی د امریکایانو غوندې نه دی، ځکه چې له الله (ج) څخه یې خلکو ته وروستۍ کلمه راوړې، که اسلامي امت مړ شي څوک به د الله (ج) او خلکو تر منځ اړیکه ټینګوي، که اسلام له منځه لاړ شي څوک به د ځمکې په خلکو شاهدي ورکوي، که دا امت ختم شي څوک به د قانون او اخلاقو ښوونه کوي؟ که د اسلام سړي ورک شي څوک به خلکو ته الله (ج) ورپېژني؟

د دې امت طبیعت دا دی چې ټلپاتې به وي، ټلپاتې والی یې د ځمکې په خیر او ټک یې د ځمکې له منځه تګ دی.

**۳- د جنګ په حقیقت پوه شه:**

جنګ د مسلمانانو او کافرانو تر منځ نه دی، جنګ په اصل کې د الله (ج) او د هغه چا تر منځ دی چې د هغه د کمزورو بنده ګانو څخه یې دین او قانون لرې کړل؛ همدا ډول جنګ د الله (ج) او د یهودو او د الله (ج) او د هغه چا تر منځ دی چې له دین سره یې جنګیږي.

په دې ډول مسلمانان باید یوازې د الله(ج) د لارې تابع واوسي، ثابت پاتې شي او الله (ج) به یې دفاع کوي. الله(ج) له هغه چا دفاع کوي چې ایمان یې راوړی او څوک چې د الله (ج) د دین مرسته کوي الله (ج) به د هغه مرسته وکړي، د الله (ج) د ستروالي، جلال او لویې په اندازه به جنګ هم اندازه کوو. ژباړه: دوی هغسې د الله (ج) قدر ونه کړ لکه څنګه چې د هغه د قدر کولو حق دی د قیامت په ورځ به ټوله ځمکه د هغه په موټي کې وي او اسمانونه به د هغه په ښي لاس کې نغښتل شوي وي؛ الله (ج) د هغه شرک څخه پاک او لوړ دی چې دوی یې کوي. زمر سورت۶۷ ایت.

**۴- په قرآن او حدیث کې د زېري په حقیقت پوه شه:**

ژباړه: او پر موږ دا حق و چې د مومنانو مرسته وکړو. روم سورت ۴۷ ایت.

قسم په خدای چې که د زېري ایتونه نه وای نازل شوي بیا به هم بس وه. ژباړه: موږ خامخا د دنیا په ژوند کې د خپلو پیغمبرانو او مومنانو مرسته کوو او هغه ورځ یاده کړه چې شاهدان به ولاړ وي. غافر سورت ۵۱ ایت.

امام مسلم له ثوبان (رض) څخه روایت کوي چې رسول الله (ص) وایي: الله (ج) ځمکه راته را لنډه چې ختیځ او لویدیځ مې یې ولیدل او زما امت به یې هغو برخو ته رسېږي چې ما ته راوښودل شوي.

او هغه څه چې له آیتونو او ... ۳مخ

# شتمن او سخي صحابي

**حسان مجاهد**

له مرګه وروسته دومره ډېره دنیا ترې پاته شوه، چې په اوس زمانه کې له ۸۵۰ ملیونه امریکایي ډالرو سره برابره ده. هغه بختور ته په دنیا کې دجنت زیری ورکول شوی و.

یوه ورځ یې په څلوېښت زره دیناره چیرته ځمکه واخیسته او سمدستي یې امهات المؤمنین د رسول الله (ص) بیبیانو او بې وزلو کسانو ته ور جلا کړه. یوه ورځ یې د اسلام لښکرو مجاهدینو ته پنځه سوه آسونه ورکړل او یوه ورځ یې بیا پنځلس سوه سپرلۍ ور وسپارلې. په خپل ژوند کې یې دېرش زره غلامان آزاد کړي دي. د مرګ پرمهال یې د الله تعالی لارې ته پنځوس زره دیناره وقف کړو او د بدر هر غازي ته یې د څلور سوه دیناره ورکولو وصیت وکړ. ویل کېږي چې د مدینې منورې خلګ ټول په مال کې ور شریکان وو؛ یوې برخې خلکو ته یې قرضونه ورکړي وو، له دویمې برخې یې قرضونه په غاړه اخیستي وو او دریمې برخې سره یې نوره مرسته کړې وه. دا شتمن او سخي صحابي عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دی. [البدایة والنهایة لابن کثیر]

## حدود ۴۰ تانکر تیل بی کیفیت ...

اداره ملی نورم و ستندرد از تمامی تاجران کشور خواسته که از وارد کردن کالای بی‌کیفیت و کم کیفیت به داخل کشور، خودداری کنند.
این اداره تاکید کرده که به هیچ عنوان اجازه ورود کالاهای بی‌کیفیت را به بازارهای کشور نمی‌دهد.
این در حالی است که چند روز پیش نیز ۱۹ عراده تانکر حامل تیل بی‌کیفیت از بندر ابو نصر فراهی توسط ماموران اداره ملی نورم و ستندرد به ایران مسترد شد.

## حل و فصل بیش از شصت دوسیه ...

وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.
در بخش وثایق: در جریان دو هفته در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۴۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

# افغان اعلانات


### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت فیصل فاضل لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۵۱۴۴-۴ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای غلام جیلانی فرزند بسم الله بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵۶۴

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت وحید فضل الله نیکوال لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۲۱۵۴-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای صفی الله فرزند محمد یعقوب بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۵۴۲

***

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهٔ) آپدیت ماشین های لابراتوار گمرکات ( دارای نمبر تشخیصیه (MOF/1403/NCB/NCS-015) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهٔ فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۷/ ثور/۱۴۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۶/ ثور/۱۴۰۳ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.
تضمین آفر : به مبلغ ۳۰۰,۰۰۰ (سه صد هزار) افغانی میباشد.
آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان - ریاست تدارکات،آمریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۱۵۶

***

### اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم محمد اکبر رفاه فرزند شیر احمد ولدیت امیر محمد دارنده تذکره نمبر (۱۹۱۱۴-۰۵۰۰- ۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانه امام مهدی واقع ناحیه هشتم ولایت کابل عنوانی این اداره عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد. ۵۶۳

***

### اطلاعیه فروش امتیاز عمده فروشی

محترم میلاد فرزند عبدالمنان باشنده اصلی ولایت کابل دارنده تذکره (۱۲۲۸۴۸۹۷) مالک امتیازعمده فروشی ادویه پروان باستان خواهان تغیر اسم عمده فروشی ادویه خویش را از اسم پروان باستان به اسم اتفاق صحت گردیده است.
اشخاص ، موسسات و دوایر د ولتی که بالای عمده فروشی مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه یوم به اداره ملی دوا و غذا افغانستان اطلاع دهند. ۵۶۲

***

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود،وزارت ارشاد، حج و اوقاف در نظر دارد تا پروژه تهیه و تدارک (۳) مواد سوخت آشپزخانه پروسه حج سال مالی ۱۴۰۳ خویش را به شرکت خدمات لوژستیکی ویدا ویرا دارنده جواز نمبر (۶۸۶۹۹) واقع در قلعه موسی ناحیه ۱۰، مرکزکابل، کابل. به قیمت مجموعی مبلغ (۶۴۳,۰۰۰) شش صدو چهل و سه هزار افغانی اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد. ۵۵۶

***


## په تېر یو نیم کال کې دوه نیم میلیونه...

د غصب شویو ځمکو د تثبیت او تشخیص تخنیکي هیئتونو لپاره شپږ ورځنی زده کړه ییز سیمینار د دوشنبه په ورځ د شوال د میاشتې په ۱۳ نېټه د ملکي خدمتونو انستیتوت په تالار کې جوړ کړ. د یاد سیمینار د پرانیستې په مراسموکې، د عدلیې وزارت د امارت د قضایاوو لوی رئیس او د یاد کمېسیون سکرتر مولوي احسان الله وثیق، د سترې محکمې استازي شیخ عبدالصمد حقاني او د عدلیې وزارت نورو رئیسانو او مسؤلینو ګډون درلود.
مولوي احسان الله وثیق ګډونوالو ته د خپلو خبرو په ترخ کې د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ وویل چې، له غاصبانو څخه د غصب شوې ځمکې راګرځول چې څو کاله یې په تصرف کې وه ډېر ستر کار دی او کمېسیون او تخنیکي هیئتونو دا کار ترسره کړی دی.
نوموړي زیاته کړه چې نن په ټول افغانستان کې خلک د هېواد په کچه د محمد داوود خان کارونه له دې جملې د کادستري قطعاتو تعیین او د ځمکو ثبت یادوي او وایي چې هغه ستر کارونه کړي دي.
نوموړي زیاته کړه چې نن ورځې تخنیکي هیئتونو او کمېسیون د هغه وخت په پرتله ستر کارونه ترسره کړي؛ لکه د ځمکو تصفیه ساده کار نه ده او دا کار په به تاریخ کې پاتې شي.
د امارت د قضایاوو لوی رئیس او د کمېسیون سکرتر وویل چې د یاد کمېسیون د فعالیت له پیل څخه تر دې دمه څه باندې ۲.۵ میلیونه جریبه غصب شوې او یا د غصب تر ګواښ لاندې ځمکه استرداد او د ځمکو په بانک کې ثبت کړې ده.
نوموړي زیاته کړه سره له دې چې د تخنیکي هیئتونو زیاتې اداري ستونزې حل شوي، یو شمېر ورې ستونزې پاتې او کمېسیون هڅه کوي چې ژر تر ژره یې حل کړي.
له بلې خوا په دغو مراسمو کې د سترې محکمې استازي، شیخ عبدالصمد حقاني د کمېسیون له ولایتي تخنیکي هیئتونو څخه وغوښتل چې په خپلو کارونو کې لازم دقت وکړي. نوموړي زیاته کړه چې د اراضی نظام په تېرو څو لسیزو کې بې نظمه شوی او پراخې اراضې او حتی غرونه او دښتې چې د عام ولس ګټې اخیستنې لپاره وې، غصب شوي دي.
نوموړي وویل چې په ورته وخت کې خلک په ځانګړي توګه مهاجرین، کوچیان او د ټولنې نور قشرونه سرپناه غواړي او هغو ته د ځمکو له تصفیې پرته سرپناه ورکول ناشونې ده. د نوموړي په وینا کمېسیون موظف دی ترڅو دغه ځمکې تصفیه کړي او د اراضی نظام منظم کړي.
یاد سیمینار د کرنې، عدلیې، ښار جوړولو، او سرحدونو رئیسانو او د ولایتونو تخنیکي هیئتونو نورو غړو په شمول څه باندې ۲۰۰ تنو ګډونوالو ته جوړ شوی چې ۶ ورځې به دوام وکړي. په دې سیمینار کې د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد قانون، د امارتي غصب شویو ځمکو قضایاو ته رسیدګی اختصاصي محکمې شرعې اصولنامه، په ولایتونو کې د غصب شویو ځمکو د تثبیت او تشخیص لارښوود او نورو اړینو سندونو او مواردو په اړه توضیح ورکړل شي.

## د اتاترک روغتون ظرفیت..

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د یاد بنسټ له لوري د اتاترک روغتون عملیات خونې د بیارغونې او دغه روغتون ته د طبي تجهیزاتو د ورکړې په موخه د یاد بنسټ له مسؤلینو څخه د منني ترڅنګ له هغوی وغوښتل، چې په راتلونکي کې هم د روغتیا په برخه کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي او ورته عملیات خونې په یو شمېر نورو روغتونونو کې هم ورغوي.
له بل لوري د یاد بنسټ مسؤلینو پر خپلو دوامداره همکاریو ټینګار ته پر اشارې وویل، موږ به راتلونکي کې ورته نورې عملیات خونې هم ورغوو او په همدې موخه یې د عامې روغتیا وزارت د مشرتابه څخه وغوښتل؛ ترڅو د هغو روغتونونو اړوند معلومات، چې عملیات خونې یې بیارغونې ته اړتیا لري زموږ سره شریک کړي.

## تېره اونی د اوسپنې پټلی په وسیله...

د خواف ـ هرات د اوسپنې پټلی د دریېمې برخې د فعاله کېدو او ګټې اخیستنې وروسته شاوخوا لس زره میټریک ټنه واردات شوي دي. د مسوولینو په خبره، د یادې پټلی له لارې یې ۱۱ سوه میټریک ټنه د تالک ډبرې ترکیې ته نوي صادرات پیل کړي.
د دوی په خبره په ایران کې یې د ګمرکي چارو تر بشپړېدو وروسته به دغه ډبرې ترکیې ته ورسېږي.

## د اقتصادي وضعیت د خرابوالي ...

د اقتصاد وزارت ویاند عبدالرحمن حبیب د شریعت ورځپاڼې خبریال ته په یوې ځانګړې مرکه کې وویل: سره له دې چې د بهرنیو بنسټونو لخوا مالي او بانکي بندیزونو لګول شوي، د هېواد د بهرنیو اسعارو د پانګې له کنګل کېدو او د نړیوالې ټولنې له خوا د پراختیایي مرستو له ځنډولو سره مخامخ یو، خو سره له دې بیا هم د افغانستان اسلامی امارت د اقتصاد محوره پالیسی له امله ټول تمرکز او پاملرنه د کورني ناخالص تولید او اقتصادي ودې د ثبات په لور روانه ده او د کارموندنې او کورني تولیدي سکتورونو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی، تر څو په بېلابېلو برخو کې اقتصادي ودې ته لاره هواره شي.
ښاغلی حبیب زیاتوي، چې د تېر کال د مهمو اقتصادي شاخصونو عملکرد په ډاګه کوي چې د انفلاسیون د کچې راټیټېدل، د افغانی د ارزښت ثبات ساتل، د ملي عوایدو زیاتېدل، وارداتو او صادراتو په کچه کې زیاتوالی، د عادي او پراختیایي پروژو لګښتونو تمویل له بهرنیو مرستو پرته د کورنیو عوایدو څخه د هېواد د کورنیو تولیداتو زیاتوالی، د کورنیو او بهرنیو پانګونې جذبول، د هېواد د اقتصادي تحرک څرګندونه کوي.
نوموړی وایي، څرنګه چې د کورني ناخالص تولید وده د اقتصادي او ټولنیزو عواملو سربېره په سیاسي شرایطو پورې اړه هم لري، د نړیوالې ټولنې مثبت تعامل د بانکي محدودیتونو لرې کول، د افغانانو د کنګل شوي بهرنی اسعارو آزادول او د پراختیایي پروژو بیا پیل چې مخکې د بېلابېلو بهرنیو بنسټونو او هېوادونو لخوا تمویل کېدلې کولای شي مستقیماً په اقتصادي وده د خلکو په اقتصادي وضعیت اغېزې ولري.
ښاغلي حبیب زیاته کړه، چې د کرنې سکتور یو له بالقوه اقتصادي شاخصونو څخه شمېرل کیږي او د هېواد د اقتصادي ودې یو له خورا مهم او اغېزناکو فکتورونو څخه دی، چې شاوخوا ۷۰سلنه افغانان او ۶۱سلنه کورنی خپل عایدات او د ژوندانه اړتیاوې د کرنې له سکتور څخه لاسته راوړي.
همدارنګه د کورني ناخالص تولیداتو کې شاوخوا ۳۱ سلنه د کرنیزو محصولاتو ونډه ده، چې د افغانستان زیاتره صادرات کرنیز محصولات دي، چې شاوخوا ۴۸ سلنو ته رسېږي، د معلوماتو سره سم په استخدام برخه کې هم د کرنې سکتور ونډه ۶۷ سلنه اټکل شوې ده.
نوموړی ویاند وایي، چې د کرنې سکتور پراختیا زموږ له اقتصادي لومړیتوبونو څخه شمېرل کېږي او کولای شي په هېواد کې د اقتصادي پرمختګ لامل شي او په همدې ترتیب اوسمهال چې د مخدره توکو کښت منع شوی او الحمدلله د دغې ناوړې پدیدې په مقابل کې د مبارزې له امله د مخدره توکو کښت صفر ته تقرب کړی دی، د بدیل معیشت او د بزګرانو د ملاتړ لپاره بېلابېل پروګرامونه د پلي کېدو په درشل کې دي.
همدارنګه هغه زیاتوي د غله جاتو په تولید کې زیاتوالی، د اوبو مدیریت او د اوبو د بندونو جوړول، د کرنیزو ځمکو احیا او زیاتوالی، د کرنیزو صادراتي توکو د کچې لوړوالی، د مالدارۍ او باغدارۍ وده او همدارنګه د ځنګلونو او څرځاینو بیارغونه له هغو پروګرامونو څخه دي، چې د کرنې سکتور د پیاوړتیا او د بزګرانو د حمایت لپاره اقتصادي لومړیتوب لري.

سمیع الله مومند

## د نړیوال بانک پر واقعیتونو...

نړیوال بانک په خپل وروستي راپور کې ویلي، چې له تېرو څه باندې دوو کلونو راهیسې د افغانستان اقتصادی حالت ټکنی دی، د کورني ناخالص تولید کچه ټیټه شوې، انفلاسیون کم شوی، بازار ته د اړتیا وړ افغانۍ عرضه کولو کې کموالی راغلی او په سوداګرۍ کې هم کسر شته. یاد معاونیت زیاته کړې، په ټول هېواد کې یې د نشه یي توکو پر کرکېله بندیز لګولی او کروندګرو ته د بدیل کښت پر رامنځته کوونه بوخت دي.
معاونیت دغه راز ویلي چې نړیواله ټولنه باید کروندګرو ته د بدیلو کښتونو په برخه کې له دوی سره همکاري وکړي.
اقتصادي معاونیت لیکي چې که نړیواله ټولنه له افغان حکومت سره مثبت تعامل ته مخه کړي، د افغانستان پر بانکونو او سوداګرۍ بندیزونه لغوه کړي، د افغانستان کنګل شوې شتمني ازاده او د پراختیایي پروژو د تمویل تر څنګ په نورو برخو کې همکاري وکړي نو لرې نه ده چې ګڼ کاري فرصتونه به رامنځته او اقتصادي وضعیت به ورسره عموما ښه شي.

## بي بي سي باید د افغاني ټولنې...

چارو اوږده مخینه لري، نو لازمه ده چې په خپلو خپرونو کې د افغاني ټولنې حساسیتونو او ځانګړنو ته پام وکړي. د نشراتو معینیت چارسمبالي مولوي ضیاالحق حقمل وویل: که بي بي سي غواړي په افغانستان کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي نو ضروري ده، له هغو خبرونو او شائعاتو نشرولو ډډه وکړي، چې د افغانانو ترمنځ د نفاق او تعصب سبب ګرځي.
د رسنیو په نشراتو د څار او نظارت ریاست رئیس ډاکټر ریان د بي بي سي هغه مستند په ګوته کړل چې په تېرو میاشتو کې یې له خبلو خپرونو کړي وو او له افغانې ټولنې سره په ټکر کې وو. د جنوبي اسیا لپاره د بي بي سي مشرې جکي مارتینس وویل، دوی به دغه نواقص او ملاحظات له ځان سره یوسي او د ستونزو د هوارې په موخه به له خپلو مشرانو سره وګوري.

## د دوحې راتلونکې ناسته کې تر غور...

د افغانستان حکومت له ملګرو ملتونو سره په خبرو بوخت دی، په دوحه کې د راتلونکې ناستې د اجنډا او ترکیب په اړه له کافي وضاحت وروسته به خپل دریځ څرګند کړي.
د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي پر خپل وار ټینګار وکړ چې هر ډول ناسته چې د افغانستان په اړه جوړېږي، باید د افغان حکومت هوکړه پکې اخیستل شوې وي.
ښاغلي ضمیر کابلوف وویل، د دوحې په راتلونکې ناسته کې هم مهمه ده چې ملګري ملتونه د افغانستان د حکومت توافق ولري. ده ټینګار وکړ چې د افغانستان د حکومت له هوکړې پرته دا لړۍ کومه پایله نه شي لرلی.
ده وویل، د نړۍ دولتونه د تماس د څو اړخیزو میکانیزمونو پر ځای باید د افغانستان حکومت سره د دوو اړخیزو میکانیزمونو له لارې اړیکې وپالي.
ښاغلي کابلوف ټینګار وکړ، چې امریکا باید د افغانستان کنګل کړې شتمنۍ ازادي کړي او پر بانکي نظام یو اړخیز او غیرقانوني بندیزونه پای ته ورسوي او خپل مسؤلیتونه ترسره کړي.
د روسیې ځانګړي استازي وویل، چې دواړه هېوادونه باید لا زیاته همغږي ولري. ښاغلي کابلوف هیله څرګنده کړه چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د روان کال په اوږدو کې مسکو ته سفر وکړي.

## لوړو زده کړو علمي مرستیال عربي...

مننه وکړه او په دې برخه کې یې په یاد هېواد کې د افغانستان د سفیر هڅې وستایلې. د یادونې وړ ده چې شیخ زاید پوهنتون په ۱۳۸۱هـ.ش کال کې د متحده عربي اماراتو په مالي مرسته جوړ شوی دی.

## توزیع کمک‌های بشردوستانه به..

یک‌هزار و ۴۷۸ خانواده در کابل و برای ۸۰۰ خانواده در هلمند، مواد خوراکی توزیع شده است. در خبرنامه‌ها آمده که کمک‌های یادشده از سوی برنامه جهانی غذا (WFP) برای نیازمندان فراهم شده است. به گفته وزارت احیاء و انکشاف دهات، ریاست‌های ولایتی این وزارت نقش همکاری در توزیع و تثبیت خانواده‌های نیازمند داشته‌اند. روند توزیع کمک‌های بشردوستانه به نیازمندان در کشور همه‌روزه ادامه دارد. روز گذشته نیز برای صدها مهاجر برگشته از پاکستان در ولایت لغمان کمک‌های بشردوستانه نقدی، توزیع شد.

## وړمه ورځ له پاکستانه نږدې اته...

ملتونو عالي کمېشنري ته وریېژندل شوي دي. دغه کسان وروسته له هغې هېواد ته راستنېږي، چې د پاکستان له لوري په جبري ډول د افغان کډوالو د اېستلو دویمې څپه پیل شوې، خو اسلامي امارت وایي، بېرته راستنېدونکو کډوالو ته یې بشپړ چمتووالی نیولی دی.

## تأکید وزیر خارجه بر همکاری‌های..

افغانستان را مثبت و با ثبات ارزیابی کرده است. آقای شینگ تاکید کرده که چین در تلاش است تا با سرمایه‌گذاری سرمایه‌گذاران چینی در افغانستان، نقش خود را در بهبود اقتصاد این کشور، ایفا کند. گفتنی‌است که چین در حال حاضر به‌عنوان تنها کشور در جهان روی معادن نفت افغانستان سرمایه‌گذاری بزرگی انجام داده است.

## لوېدیځ د اسلامي امارت په تړاو...

د ملي دفاع وزارت وزیر مولوي محمدیعقوب مجاهد د یاد پلاوی هرکلی کړی او په خبره چې شته ستونزو ته به افغان حکومت لاس په کار او ژر تر ژره به حل شي. ښاغلي مجاهد په خپلو خبرو کې وویل: ((هیڅ شئ له امنیت څخه بهتر نه وو، نن ورځ هغه د خدای ج په کامل نصرت او د خلکو په قربانیو سره په دغه ځمکه راغلی دی، باید شکرانه اداء کړو او د دغه فرصت څخه په استفادې سره به د هیواد په پرمختګ کې برخه واخلو.)) د یادونې وړ ده چې د بهرمېشتو افغانانو په استازولی دغه افغان پلاوی تر دې وړاندې د کابینې له ګڼو نورو غړو سره هم کتلي وو.

## یو بل مفهوم، د تاریخ ...

حدیثونو بېل دي د قسطنطنیې فتح او د روم سوبه، قسطنطنیه فتح شوه او روم( د ایټالیا پایتخت) به هم فتح کېږي( ناشونې نه ده) وما .

۵- د تاریخ په حقیقت پوه شه:
زموږ بریاوې په تاریخ کې په ډېرو کمو تجهیزاتو ترلاسه شوې دي، په بدر، یمامه، قادسیه، یرموک، نهاوند، تستر، د اندلس په فتح کې او همداسې نور.
هر ځل چې لوېدلي یو بیا راپورته شوي یو د رسول الله (ص) له وفاته وروسته عربي جزیرې تر ډېره سقوط وکړ، بیا یو نا اشنا قیام وشو او اسلامي دولت له هغه هم ډېر ځواکمن شو ، چې مخکې و، بلکې روم او پارس یې ونیول او د کسرۍ او قیصر شان یې سپک کړ. د اندلس په ملوک الطوایفي کې سقوط وشو بیا د مرابطینو مجاهد دولت راپاڅېده، فلسطین د صلیبیانو په لاس ونیول شو، بیت المقدس شاوخوا نوي کاله بند و بیا د صلاح الدین او نورو اتلانو په لاس د مسلمانانو لپاره یو په زړه پورې قیام وشو چې په نتیجه کې یې د حطین جنګ وشو. وروسته د تاتاریانو په لاس سقوط وشو چې ورپسې د مملوکانو او قطز په لاس بریا راغله ، بلکې ټول اندلس سقوط شو خو هماغه وخت عثماني خلافت راپاڅېده، که کله هم د اروپا له لوېدیځه اسلام لرې شوی نو په ختیځ کې ځلېدلی دی. مسلمانانو هیڅکله هم سقوط نه دی کړی مګر بېرته بریا ورپسې راغلې ده

# Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰٦۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦ /۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Wednesday 24 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 435


### مولوي امیرخان متقي:

# د دوحې راتلونکې ناسته کې تر غور وروسته دریځ روښانوو



د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره د افغانستان لپاره د روسیې فدراسیون د ولسمشر ځانګړي استازي ښاغلي ضمیر کابلوف وکتل. په دې ناسته کې د افغانستان او روسیې ترمنځ پر دوو اړخیزو سیاسي او اقتصادي مسایلو، په دوحه کې د ملګرو ملتونو په نوبت د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو په ګډون د راتلونکي ناستې او پر سیمه‌ییزو مسایلو خبرې اترې وشوې.

د بهرنیو چارو وزیر په سیمه‌ییزو او نړیوالو ناستو کې د روسیې له ملاتړي دریځ قدرداني وکړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د سیاسي اړیکو او سوداګرۍ پر لا پیاوړتیا ټینګار وکړ. متقي وویل، چې د افغانستان اړیکې د سیمې له هېوادونو سره مخ پر غوړېدو دي او اوسمهال افغانستان د سیمې له نژدې ټولو هېوادونو سره فعالې ډیپلوماټیکې اړیکې لري. د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي روسیې سره د افغانستان اړیکې مهمې وبللې او ټینګار یې وکړ، چې د افغانستان اوسني ځمکني واقعیتونه باید درک شي. ښاغلي متقي وویل، اوس په افغانستان کې داسې شرایط نه دي واکمن چې د ملګرو ملتونو لخوا د کوم ځانګړي استازي اړتیا پېښه شي. وزیر زیاته کړه، چې... ۳مخ

### اروپايي ټولنه پر تهران بندیزونه لګوي



د اروپايي ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو ورمه ورځ موافقه کړې، چې پر اسرائیلو د ایران د وروستي برید په غبرګون پر تهران بندیزونه پراخ کړي. اروپايي ټولنه اوس مهال پر ایران د ډله ییزې وژنې د وسلو د خپراوي، د بشري حقونو د سرغړونو او روسیې ته د بې پیلوټه الوتکو د رسولو په تړاو د بندیزونو څو پروګرامونه لري. خو د دې اتحادیې څو هیوادونو د بې پیلوټه الوتکو په اړه د بندیزونو د پراخولو غوښتنه وکړه چې راکټونه او نیابتي ډلو ته د وسلو لیږدول هم پکې شاملیږي.

## رویدادهای خارجی

### سفر اردوغان پس از ۱۳ سال به عراق؛

# ۲۶ سند همکاری با امضا رسید



رجب طیب اردوغان پس از ۱۳ سال در یک سفر رسمی وارد بغداد پایتخت عراق شد.

این سفر ناوقت روز (دوشنبه، ۳ ثور) صورت گرفته و آقای اردوغان با عبداللطیف رشید، رئیس جمهور و محمد شیاع السودانی، نخست‌وزیر این کشور، دیدار کرده است. بربنیاد گزارش‌ها، در این سفر رئیس جمهور ترکیه با عراق، ۲۶ سند همکاری در بخش‌های مختلف میان مقام‌های ترکیه و عراق به امضا رسیده است. سندهای همکاری در بخش‌های چون آب، همکاری‌های امنیتی، آموزش نظامی، انرژی، منابع انسانی، خدمات صحی، حمایت از سرمایه‌گذاری‌ها، همکاری‌های کشاورزی، گردشگری و آثار باستانی امضا شده است.

رجب طیب اردوغان، رئیس جمهور ترکیه، پس از دیدار با مقام‌های عراقی در یک کنفرانس خبری با نخست‌وزیر عراق گفت که دو کشور با حزب جدایی‌طلب کردستان به‌گونه مشترک مبارزه خواهند کرد. این مقام دولت ترکیه اعلام کردن حزب جدایی‌طلب کردستان را به‌عنوان جریان نظامی ممنوعه در عراق، استقبال کرده است.

# پارلمان بریتانیا طرح اخراج مهاجران غیر قانونی به روندا را تصویب کرد

پارلمان بریتانیا طرح اخراج مهاجران غیر قانونی که به «لایحه روندا» مشهور است را تصویب کرد و طبق آن مهاجران که به شکل غیر قانونی وارد بریتانیا می‌شوند به روندا انتقال داده می‌شوند. بر اساس این لایحه دولت بر اساس یک برنامه پنج ساله، پناهجویانی را که به بریتانیا وارد می‌شوند به رواندا خواهد فرستاد تا درخواست پناهندگی‌شان از آنجا تعقیب کنند. این طرح از سوی ریشی سوناک، نخست‌وزیر بریتانیا پیشنهاد



شده و او پیشتر گفته بود که اولین گروه مهاجران تا ۱۰ الی ۱۲ هفته‌ی دیگر توسط هواپیما به روندا منتقل خواهند شد. دولت بریتانیا به این باور است که مهاجران پس از تصویب این طرح نمی‌توانند با قایق‌های کوچک از طریق کانال مانش به شکل غیر قانونی وارد این کشور شوند. بر اساس آمارها، در کل سال ۲۰۲۳، ۲۹۴۳۷ نفر از کانال مانش عبور کردند که این رقم نسبت به سال قبل از آن ۳۶ درصد کاهش داشت. قابل ذکر است که هیچ پناهجو پس از رد درخواست خود از سوی بریتانیا نمی‌تواند وارد خاک این کشور شود و مجبور است از روندا به کشورهای دیگر درخواست اقامت بفرستد.

# د ایران ولسمشر له پاکستاني چارواکو سره لیدنې کتنې کوي

د ایران ولسمشر ابراهیم ریيسي اسلام اباد ته د خپل سفر په ترڅ کې له پاکستاني چارواکو سره لیدنې کتنې پیل کړې دي. ښاغلی ریيسي او مېرمن یې ورمه ورځ اسلام اباد ته په یوه درې ورځني سفر تللي دي. ددغو لیدنو عمده بحثونه د دوه اړخیزو اړیکو پراختیا، د پولو د امنیت ټینګښت، اقتصادي راکړه ورکړه او نور دي. ښاغلي ریيسي ورمه ورځ له صدراعظم شهباز شریف سره تر لیدنې وروسته وویل پاکستان او ایران موافقه وکړه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کلنۍ کچه لس میلیارد ډالر ته لوړه شي. ښاغلي شریف هم هیله څرګنده کړه چې د دواړو هېوادو اړیکې به پیاوړې شي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د تهران او اسلام اباد اړیکې خرې پرې شوې وې.


**توجه !**

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!


### د ولایتونو د پوهنیز وضعیت ارزونه؛

# د پوهنې وزیر کندهار ته رسېدلی

د پوهنې وزیر مولوي حبیب الله اغا د ولایتونو د پوهنیز وضعیت د ارزونې په موخه کندهار ولایت ته د سفر په ترڅ کې ویلي، په ولایتونو کې د ښوونیزو چوپړونو د لا ښه والي په موخه یو لړ بنسټیزو پلانونه تر لاس لاندې لري، چې عملي چارې یې پیل شوې دي. ښاغلي وزیر د مدارسو لپاره د ټاکل شوي ښوونیز نصاب پر پیلیدو هم ټینګار کړی دی. نوموړي د کندهار د پوهنې له رئیس سره په کتنه کې د دې ولایت د پوهنیز وضعیت په تړاو بحث او خبرې کړې دي. دا په داسې حال کې ده، چې د پوهنې وزیر په ولایتونو کې د پوهنیز وضعیت د ارزونې په موخه د هېواد سویلي ولایتونو ته په سفر وتلی او د پوهنې د ښه والي په موخه یې د دغو ولایتونو د پوهنې رئیسانو ته لازمې لارښوونې هم کړې دي.

# په تېر یو نیم کال کې دوه نیم میلیونه جریبه ځمکه له غصبه راوګرځول شوه



مولوي احسان الله وثیق، د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون سکرتر د یاد کمېسیون ولایتي تخنیکي هیئتونو ته په زده کړه ییز سیمینار کې وویل چې د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون د فعالیت له پیل څخه تر دې دمه د هېواد په کچه څه باندې ۲.۵ میلیونه جریبه غصب شوې یا د غصب تر ګواښ لاندې ځمکه استرداد شوې او د ځمکو په بانک کې ثبت شوې ده.

د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون، د ۳۴ ولایتونو... ۳مخ

# سرپل کې یو بنسټیز پل بیارغول کېږي

د سرپل ولایت د ټولګټو چارو ریاست مسوولینو د دغه ولایت په کوهستانات ولسوالۍ کې پر څه باندې ۳۰ کیلو متره سړک د جغل اچولو چارو د پیل خبر ورکړی دی. د یاد ولایت والي د دغې پروژې د پرانیستلو پر مهال ویلي، چې د چارواکو د ژمنې له مخې به سږ کال سرپل کې سل کیلومتره سړک په پاخه او اساسي ډول جوړ شي.

ورته مهال د یاد ولایت د ټولګټو رئیس بیا ویلي، چې د دغه ریاست له لوري د نږدې ٤ میلیونه افغانیو په لګښت سرپل مرکز، بلغلي کلي څخه د کوهستانات ولسوالۍ اړوند علف سفید کلي پورې د ۳۲ کیلو متره په اوږدوالي پر سړک د جغل اچولو چارې پیل شوې دي.

# حل و فصل بیش از شصت دوسیه و اجرای ۴۶ وثایق در محاکم بامیان طی دو هفته



خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها در طول دو ماه گذشته بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

دربخش حقوقی:

در جریان دو هفته به تعداد (۶۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷) دوسیه‌فیصله شده‌ومتباقی‌دوسیه‌تحت‌کار‌می‌باشد.

در بخش جزائی: در جریان دو هفته به تعداد (۲۰) دوسیهٔ جزائی ... ص۳

# جان باختن چهار تن در پی ریزش سقف خانه در لوگر

در نتیجه‌ی فروریزی سقف یک خانه از اثر بارندگی در مرکز ولایت لوگر دو زن و دو کودک جان‌های شان را از دست دادند. خبرگزاری دولتی باختر به نقل از مسؤولان این ولایت گزارش داده که این رویداد دوشنبه‌شب، ۳ثور در روستای «میدانک» از مربوطات پل‌علم، مرکز این ولایت رخ داده است.

طبق گزارش، در این حادثه دو تن دیگر نیز زخم برداشته‌اند. پیش از این در نتیجه‌ی فروریختن سقف یک خانه در ولسوالی شیگل ولایت کنر ۳ نفر جان باخته و شش تن دیگر زخمی برداشتند.

# توزیع کمک‌های بشردوستانه‌به ساکنین چهار ولایت

در ادامه توزیع کمک‌های بشردوستانه به خانواده‌های نیازمند، برای بیش از یازده‌هزار خانواده در چهار ولایت، کمک‌های بشری، توزیع شد.

وزارت احیاء و انکشاف دهات با نشر خبرنامه‌های جداگانه از توزیع این کمک‌ها، خبر داده است.

بربنیاد خبرنامه‌ها، برای دو هزار و ۵۹ خانواده در ارزگان، شش‌هزار و ۷۹۳ خانواده در سمنگان،... ص۳

# وړمه ورځ له پاکستانه نږدې اته سوه تنه په زور ایستل شوي



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت خبر ورکړی، چې وړمه ورځ د تورخم او سپین بولدک له لارې له پاکستان څخه ۷۷۸ افغان کډوال په جبر ایستل شوي دي.

د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، له دې ډلې ۷۰ کورنۍ، چې د پاکستان له زندانونو نه د تازه ازاد شویو ۱۸ تنو په شمول ۳۹۰ تنه کیږي، د سپین بولدک له لارې هېواد ته راستانه شوي دي. همداراز ۳۷۰ تنه کډوال بیا د تورخم له لارې هېواد ته راستانه شوي، چې هرې کورنۍ ته ۱۰ زره افغانۍ ورکړل شوې او د لا زیاتو مرستو لپاره د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ... ۳مخ